
قاسم باز

۰۳ اکتوبر ۲۰۲۲



قاسم باز

## نامۀ سرگشادۀ فیسبوک  قاسم باز عنوانی جناب پاچاگل وفادار

**وزیر امور سرحدات و عضو برجستۀ تحول ۲۶ سرطان سال ۱۳۵۲**
**تهداب گذاران اولین نظام جمهوری افغانستان .**



Reply1 Qasim Baz July 17 Shared with Public

محترم وزیر صاحب جناب پاچاگل وفادار.

تاسی داسی نیک عمل او اقدام کړی دی چی نه یواځی تاسی او ستاسی ملګری پری افتخار بلکه د افغانستان  اکثره هیوادوال پری ویاړی ، باور مند یم ستاسی  په دی شجاعت او سربښندنی به اینده نسلونه افتخار کوی.

جناب وزیر صاحب.

ما پرون یوه لیکنه د ډیر ابهام په شکل ولیکله او ستاسی یوی مهم خاطری ته می پکښی اشاره وکړه چی هاغه موضوع ستا او د مرحوم داودخان په منځ کی شخصی تیره شوی ده. د هاغی څخه یو تاسی او یو سردار داودخان او زما شهید پلار خبر دی.

جناب وزیر صاحب.

دا تاریخ دی اینده نسلونه زموږ په کړو وړو قضاوت کوی. د حق ویلو په لاره کی شخصی دوستی ته باید لومړیتوب ورنکړل شی. تاسی چی څومره زړه ور او سپڅلی افغان یی. هغومره په دوستی کی هم واقعاً وفادار یی. زه ښه پوهیږم چی تاسی د بعضی ملاحظاتو په خاطر په دا تیرو ۴۹ کالو کی یو راز د خان سره پټ وساته. که چیری زه دا جرأت او یا گستاخی وکړم امید چی تاسی زما څخه خوابدی نشی.

زما دا افشا گیری نه تنها ستاسی عظمت ستاسی وفاداری، ستاسی صداقت نور هم لوړه وی بلکه ستاسی سیاسی دښمنان نور هم ذلیل او شرمنده کوی.

زما هیله ستاسی څخه به دا وی که چیری زه غلط وم ما تصحیح کړی.

زما پلار داسی را ته ویلی دی.

کله چی جناب پاچاگل د سرطان په ۲۵ د سهار په نهو نیمو بجو د داودخان کور ته راغی هغه د داودخان د هدایت په اساس د شپی نوم او د مخابری د راوړلو لپاره چی د مخابری د انتقال وسایط او یا وسیله نه وه محمد داودخان ته وویل. چی دا د قیام د شپی نوم دی زه به دا نوم د تحول نور ملگرو ته او جناب داکتر صاحب حسن شرق ته هم ورسوم. مرحوم داودخان تاسی ته ویلی وه چی «آقای شرق را زحمت ندهید وی یک شخص ملکی است شما نظامیان در بین خود به یکدیگر برسانید.» مرحوم داودخان تاسی پاچاگل خان وفادار ته وویل چی زما شخصی موتر درسره واخله د شپی مخابره پکښی راوړه. تاسی بالمقابل داودخان ته ویلی و چی زه درایف یا دریوری نشم کولای یا می زده نده. مرحوم داودخان په هاغه لحظه کی تاسی ته وویل چی. «در خارج تحصیل نمودید و تا حال دریوری کرده نمی توانید.» بیا روسته داودخان تاته وویل، «یک چاره می کنم تا مخابره را در موتر شخصی من همرای شما به خانهٔ من بیاورید. »

پلار می هم دریوری نه وه زده. هماغه و چی د مازدیگر په ۴ بجو مرحوم داودخان په خپل موتر کی د خپل زوی ویس داود سره دواړه د داکتر صاحب حسن شرق کور ته ورځی مرحوم داودخان د ستاسی نظامیانو اماده گی نیول هاغه ته ابلاغ کوی او د شپی نوم او خپل موتر داکتر شرق ته ورکوی او ورته وایی چی د شپی په دومره بجو خواجه رواش هوایی میدان ته لاړ شه هلته د پاچا گل سره مخابره یو ځای زما کور ته راوړه چی داکتر صاحب شرق هم همدا کار په ډیر جرات سره وکړو.

اینک جواب جناب پاچا گل خان وفادار عضو برجستهٔ تحول ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ که به خواهش بنده لبیک گفته. جناب پاچاگل خان وفادار در صفحهٔ فیسبوک خود، شروع و جریان تحول را چنین می نویسد:

Padshah Gul Wafadar · Shared with Public July 18 Qasim Baz

**دي وعدې سره سم د شاغلی محمداودخان د کودتا پیل درسره شریکوم.**

په تېره برخه کې د کودتا وخت وټاکل شو چې دشپې یوه نیمه بجه. زما نوی دنده هم راته معلومه شوه چې د شاغلی داودخان کورته د مخابرې دستګاه راوړل.د شپې نوم ترتیب ول او بیا په مشخصو کسانو ویشل او په پای کې د ماښام په لسو بجو د کودتا ګډون کوونکیو عمومی ړاپور په وزیر اکبرخان مېنه د محمد درملتون مخته زما وړاندیځ داوه چې د شپې په دوولسو بجو به په هوایی قواوو کې کودتا وکړم ترڅو وکړای شم د مخابرې دستګاه د دوی کورته

راوړم، چې زما دا وړاندیځ شاغلی داودخان په کلکه رد او زیاته یی کړه چې .د کودتا وخت د ټولو لپاره یو او د شپې په یوه نیمه بجه دی پوه شوم چې بې د مخابرې دستګاه چې شاغلی داودخان به د کودتا ګډون کوونکیو چې د کوماندو غنډ په شاهی ګارد کې د ټانک تولې او دی شیرپور غنډ او هوایی قوا وو دی کومانده او لازم هدایات ورکوی کودتا امکان نه لری.

له ځانه سره مې پریکړه وکړه چې مثبت ځواب به ورکړم خو په هوایی قوا کې د شپې په ۱۲ بجو مسولیت په غاړه واخلم نو ځواب می وړکړ چې سمه ده ستاسو امر سره سم دنده مخته وړم ، شاغلی محمداودخان فیض محمدخان او حبیب الله زرمتی سره د لیدو او دوی ته د وخت معلومات ورکولو نه وروسته بیا د دوی د چمتووالی اطیمنان وغوښت فیض محمدخان او حبیب الله خان ته می مفصل معلومات ورکړل او د مخابرې د دستګاه مشکل به ورسره شریک او پدې هکله مې خپل تصمیم چې د شاغلی داودخان خوښه نه وه هم تر غوږ کړ، دواړو زما نظر تایید او فیض محمدخان ډاډ راکړ چې که ستا د دوولسو بجو کودتا افشا کیږی نو دولت د کوماندو غند ته امر کړی چې د هوایی قواوو کړ کیچ حل کړو بیابه د دولت امر خلاف درسره مرسته وکړو. دوی دواړو داهم منله چې د قطعاتو دې اداري لپاره عمومی قوماندان( محمداودخان) ته د مخابرې دستګاه حتمی او په نه شتون کی یی کودتا ځنډیږی. دواړو د خپل چمتووالی باور راکړ چې بیا شاغلی داودخان ته ما راپور تقدیم کړ، د عبدالحمید محتاط سره مې په میکرویانو کې د شپې نوم جوړ او بیرته د محمداودخان کورته راغلم.

شاغلی داودخان راته وویل چې ماته په مناسب وخت کې د دوی شخصی موټر کې د هوای قواوو نه د دوی کورته د مخابرې دستګاه راوړم ؛ما دې موټر نه زده کړو معذرت وړاندې کړ. شاغلی داودخان په تعجب سره و ویل چې یو افسر او هغه هم په خارج کې تحصیل کړی اما دریایوری نه زده ؟ما پوښتنه وکړه چې د شپې نوم مشرانو ته هم ورکړم ؟ پوښتنه یی وکړه لکه څوک ؟

ما ورته شاغلی نعیم خان حسن شرق او مستغنی ورته په ګوته کړل ، پوښتنه یی وکړه چې ولې تکلیف ورکړو؟ وروسته یی و ویل ښه شوه زه به داکتر (شرق) ته و وایم چې خواجه رواش ته زما په موټر کې درشی او تا د دستګاه سره زما کور ته راوړی.

د شپې نوم مې فیض محمدخان او غوث دین فایق ته په فیض هوتل او حبیب الله خان ته د افغانستان بانک ته مخامخ او نورو ته د شپې په لسو بجو می په وزیر اکبرخان مینه کې دمحمد درملتون مخې ته د کودتا ګډون کوونکیو عمومې د خیرت او تیار سی راپور ورکړ.

۱۰/۲/۲۰۲۲